**د افغان بیسیم نامدار او شانداره پچه اچونه**

**شرایط**

1. په پچوه اچونه کې د ګډون لپاره، پیرودونکی لومړی باید **#1*7*255* ډایل کړي.**
2. د افغان بیسیم مخابراتي شرکت پیرودونکي هغه مهال په اونیزه پچه اچونه کې ور کیدی شي چې ۱۵۰ افغانی او یا دیر کریډیټ وکاروي او اونیز هدف باید بشپړ کړي، دا په دې معنی چې یو پیرودونکی باید په یوې اونی کې لږ تر لږه ۱۷۰ افغانی مصرف کړي ترڅو اونیزې پچې اچونه کې ګډون وکړی شي.
3. د موټر کټلو او ور کیدو لپاره، یو پیرودونکی باید په میاشت کې ۵۵۰ افغانی مصرف کړي او میاشتنی هدف بشپړ کړي. په دې معنی چې پیرودونکی باید په میاشت کې ۶۳۰ افغانی په میاشت کې ولږوي ترڅو په ستره پچه اچونه کې ګډون وشئ کولای.
4. یواځې د افغان بیسیم مخکې ادا کوونکي پیرودونکي کولای شي له دې وړاندیز څخه ګټه پورته کړي.
5. د افغان بیسیم مخابراتي شرکت، بیات ګروپ، آریانا ټلویزیون، بیات پاور او د هغوی د کورنیو نږدې غړي او نور کسان چې د پچې اچونې په ترتیبولو کې دخیل دي، نشي کولای په دې وړاندیز کې ګډون وکړي.
6. افغان بیسیم مخابراتي شرکت حق او واک لري چې دا پروګرام تبدیل، تعدیل او یا په دې وړاندیز کې یو شخص پرته له کومې خبرتیا/ دلیل څخه شامل نه کړي.
7. دا وړاندیز د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر له ۲۰ نیټې څخه د ۲۰۲۱ کال د جنوری له ۲۰ نیټې پورې پرانیستی دی، دواړه نیټې ( د وړاندیز نیټې پورې تړلي دي).
8. یواځې ثبت شوي پیرودونکي د اعتبار وړ تذکرې سره کولای شي په پچه اچونه او ډالیو ګټلو کې ګډون وکړي.
9. سیستم به د پیرودونکو مصرف شوې پیسې د شنبې سهار له ۰۰:۱ څخه د بلې یکشنبې ماسپښین ۱۱:۵۹ بجو پورې محاسبه کړي. پیرودونکي باید ډاډ اوسي او خپل مصر په یادو نیټو او وختونو کې تنظیم کړي.
10. پیرودونکي باید ډاډمن اوسي او خپل سیمکارټ په خپل نوم او د تذکرې ټول جزییات چې د سیمکارټ ثبتولو لپاره اړین دي باید، کره، رښتیا او بشپړ وي. هغه معلومات چې بشپړ نه او پوره نه وي، د منلو نه دي.
11. هر ګټوونکی په اونی کې یواځې یوې ډالۍ ګټلو لپاره وړ دی، سربیره پر دې چې هغوی په پچه اچونه کې څو ځله انتخاب شوي. افغان بیسیم مخابراتي شرکت حق او واک لري چې په هماغه اونۍ کې دویم انتخاب رد کړي او یا بل انتخاب په هماغه اونۍ کې د ګټوونکي په توګه وټاکي. خو د یوې اونی ګټوونکی په بله اونی کې هم د شرایطو پوره کولو په صورت کې د ګټوونکي په توګه کیدی شي.
12. د افغان بیسیم مخابراتي شرکت به د پچې ګټوونکو ته د ۱۵۲ رسمي شمېرې له لارې په (۷) ورځو کې زنګ ووهي. افغان بیسیم به د جعلي کسانو اړیکو لپاره مسوول نه وي.
13. پیرودونکي به خپلې ډالۍ د افغان بیسیم تر ټولو نږدې څانګو څخه په رسمي ساعتونو کې ترلاسه کړي. ګټوونکي د خپلو ډالیو ګټلو ادعا یواځې په ۳۰ ورځو کې د خبرتیا د ترلاسه کولو له لومړی ورځې وروسته کولای شي. که

دوی په دې ټاکلو ورځو کې خپلې ډالۍ ترلاسه نه کړي، ګټوونکي به د ډالیو ترلاسه کولو لپاره وړ نه وي او هغه ډالۍ چې نه دي غوښتل شوي هغه به په اتوماته توګه افغان بیسیم سره ضبط شي.

14. د هرې ډالۍ ګټلو منل باید د ګټوونکي له لوري او په خوښه وي ترڅو د دې اجازه ورکړي چې د ګټوونکي له نوم، انځور او غږ څخه د افغان بیسیم مخابراتي شرکت د بازار موندنې او اعلاناتو په برخه کې پرته له بل زیان نه مګر څه چې قانون اجازه ورکړې ده ورڅخه ګټه پورته شي.

15. افغان بیسیم مخابراتي شرکت په هیڅ صورت او هیڅ شرایطو کې د زیان، زخم، ویجاړ توب او یا ځنډ لپاره مسوول نه دی کوم چې د افغان بیسیم له کنټرول څخه بهر وي او یا هغه نواقص چې د ډالیو له لاسه ورکولو سبب کیږي.

16. په پچه اچونه کې د ګډون سره او یا د ډالیو په ګټلو، تاسو موافقه کوئ چې دا ډول زیان او یا نقص اوښتو ( ځانګړي، غیر مستقیم او مهم زیانونه) نه باید د افغان بیسیم مخابراتي شرکت، د اصلي (مور شرکتونو)، اړوندو شرکتونو، رییسانو، مسوولینو، کارکوونکو او استازو، حقوقو، ادعاوو او هر ډول اعمالو په وړاندې ادعا وشي کوم چې د پچې اچونې او هرې ډالۍ منلو په نتیجه کې پرته له محدودیت، ټپي کیدو، مرګ او شتمنۍ د ویجاړیدو په سبب ګرځي.

17. په پچه اچونه کې ګډون سره، تاسو تاییدوئ چې د افغان بیسیم نامدار او شانداره پچې اچونې شرایط مو لوستلي او ورسره موافقه لرئ.